# *ځلورسناريودنړی دپاره :*

# د(دوه زره نهم څخه بیاتردوه زره پنځه ویشتم ۲۰۰۹بیاتر۲۰۲۵) میلادی کالنوپوری !

دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

*دفارسی ژبی ژباړونکی چې دانګلیسی ژبی نه یې دنړی دپاره دغه ځلورسناريويې ژباړلی په دی اړه خپل لړلیددمقدمی په توګه په لاندی ډول سره وړاندی کوي :*

دهندوستان دهیواد داستراتیژیکومسائلویوه ډله څیرونکی د*«استراتیژیک فورسایټ ډله»* په نوم سره چې مرکزیې په هند کښې دی اودسیمی د(۵۰) پنځوسو تنو نوروڅیړونکوپه ملتیا سره یو څیرنیزرپورټ یې د«منځنی ختیځ دشخړواوپانګی اچونو،مصارفو،تاوانونو،ورانیو او ویجاړیو» په هکله یې لیکلی اوخپورکړی یې دی چې خورا ډېرمهم دڅیرنو،شینونو، شمیرنو،ارقامواویوشمیر جدولونوخپرول دی چې په ځان پسی دورانی ،ویجاړی،اقتصادی ،سیاسي ،ډیپلماتیکو،انسانی،نظامي تاوانونه،ټولنیزاوسیمیزی شخړی لري اودغه ټول مسائل یې ترپوره غور،څیړنی اومطالعی لاندی نیولی دي اوپه دغه څیرنه کي داډول پوښتنی اوځوابونه یې رامنځته کړی دی : ایا په سیمه کښې دسولی رامنځته کیدل شونی کاردی اوکه نه ؟ هو ددی ځلوروسناريودجملی نه یوهم دسولی اودوستی څخه عبارت دی چې په دغه رپوټ کي د(۲۰۰۹م کال څخه بیا تر۲۰۲۵) میلادی کالنو پوری وړاندوینه یې سوی ده . که څه هم دواقعیتونودمخی څخه دهغه جملی نه دغزی جګړه ددی څیړنی ددوهم سناريودجملی څخه دی یعنی دسیمی دورانی اودویجاړی مسئله دواقعیتونوسره نږدی ورپیژنی .

**په دی څیرنیزرپوټ کي زیاراېستل سوي دی چې دامریکا مخکنی دولت (دجورج بوش) دولت یې ددی ټولوجنګ جګړواوشخړورامنځته کوونکی ورپیژندلی دی اونورهیوادونه چې ددی ټولوجنګ جګړواوشخړوپیلیدونکی وي خصوصاً داسرائیلودهیواد نوم یې نه دی اخستی .**

**په دی څیرنیزرپوټ کي لیکل سوي دی،دعراق هیواد چې دتمدنونودمرکزپه توګه دبشرپه پیښلیک (تاریخ) کي دوه ځله وران او ویجاړسویدی :**

***لمړی ځل : په (۱۲۵۷) میلادی کال کي دمغلوپه لاس وران اودخاوروسره یوشان ته سو.**

*** دوهم ځل : دامریکائیانوپه لاس په (۲۰۰۳) م کال کي وران سو.**

**په دی څیرنیزرپوټ کي په سیمه کښې دالقاعدی د سازمان رامنځته کیدل یې دامریکا دسیاستونوزیږدنه بللی اوپه بربنډه اوښکاره توګه دامریکا سیاستونه یې ترشینونواوګوت نیونو لاندی نیولی دي .**

**په دی رپوټ کي وشمیرنو ،ارقامو،څیرنواوجوړسوی جدولونوته ډېر ارزښت ورکول سویدی اوپه یوډول سره (۹۷) اوه نهوی معیارونه دشمیرنو ،ارقامودپانګو اچونو ،مصارفودڅیرنی دپاره ترنظرلاندی نیولی سوی دی ترڅوددغه مالی مسائلوڅیرنه په ډېرځیرسره صورت ومومی او په ځرګنده ډول سره هراړخیزڅیرنه رامنځته سي .**

## شمیراوارقام :

**په دی هکله په دی رپوټ کي ځرګنده سوی دی چې د(۱۹۹۱ م کال څخه بیا تر۲۰۱۰) میلادی کال پوری دسولی اوثبات دنه شتوالی له کبله دجګړواوشخړوخرڅه اومصرف په منځنی ختیځ کي (۱۲) دولسو تریلیونو ډالروڅخه عبارت وو چې ددغومصارفوڅخه لویه برخه یې دعراق وهیوادته دتاوانونوورسیدل دي چې دهمدی شمیرنی دجملی څخه ګڼل کیږی .**

**په منځنی ختیځ کې دوسلیواونظامي سامان الاتورانیول دنړی دنوروځایونوڅخه دلته خورازیات دي چې په منځنی ډول سره دکورنی لاسته راوړنواوکټوڅخه ښپږسلنه (٦٪په سلوکښې ښپږفیصده ) د دوسلیواونظامي سامان الاتوپه رانیولوپوری اړه لري .**
**لبنان ددی (١٢) دولس تریلیونه څخه تراوسه پوری دسلو(١٠٠) میلیاردوپه شااوخواکې خپله پانګه اوسرمایه یې په سیمه کې دسولی اوامنیت دنشتوالی له کبله په جګړواوشخړوکې دلاسه ورکړی او تاوانی سوي دی .**
دلبنان هیواد یوازی د(٢٠٠٦) میلادی کال دددودیرش ورځنی جګړی په ترځ کې (دری اعشاره څلور٣،٤-) میلیارده ډالره یې دلاسه ورکړاوتاوانی سوی،یعنی هرلبنانی اوسیدونکی چې په (٢٠١٠) دوزره لسم میلادی کال کې نړی ته راځی اوزیږه ولوکیږی د(١١٠٠٠) دیوولسوزروپه شاخوا کې دخپل مالیي اوقرض ورکولودغه اندزه ډالرپه خپله غاړه باندی لري .
**په دی څیرنیزرپوټ کې،«دغه ارقام ندی لیکل سوی چې دفلسطینیانواواسرائیلیانوترمنځ په شخړواوجګړوکې ددوهمی انتفاضیی دپیل څخه شااوخوا (١٠٠٠٠) لس زره کسه وژل سوی دی اوهمدارنګه په دی څیرنیز رپوټ کې په دی هکله هیڅ یو جمله هم ندی لیکل سویدی چې دغه ټول وژل سوی انسانان فلسطینیان دی او دعربانواواسرائیلیانوترمنځ د(١٩٤٨ م کال څخه تر دا اوسه پوری داویاوزرو(٧٠٠٠٠) څخه بیا تر(١١٠٠٠٠) تریوولسوزروتنوپوری په دی شخرواوجګړوکې وژل سوی دی ،یوازی په یوویشتمه پیړی کې دغزی په دوه ویشت ورځنی جګړه کې تر دووزرو(٢٠٠٠) زیات فلیسطینیان ووژل سول .**
**په (٢٠٠٦) م کال کې څرګنده سوی وه چې ډیرتره تریومیلیون(١٠٠٠٠٠٠) فلسطینیانو اقتصاد ډیر ویجاړه اودولوړی سره لاس اوګریوان وه .**
**تر (٢٠٠٧) م کال پوری داسرائیل دولت شااوخوا (٢٢١) دوه سوه یوویشت ښارګوتی ترخپل واک اوښکیلاک لاندی په فلسطینی باختری سیموکښې جوړی کړیدي چې ټول دغه ښارګوتی او کلی هغه ساختمانونه اوجوړښتونه دی چې په ختیځ قدس کې جوړسوی اورامنځته سویدی . د(*١٩٧٨،١٩٨٢،١٩٩٣،١٩٩٦-اوا٢٠٠٦*)کالنوپه بهیرکې دلبنان اوداسرائیلودهیوادونو ترمنځ دشخړواوجګړو په ترځ کې (٢٠٠٠٠) شل زره کسه وژل سوي دي او ددی وژل سوي کسانولویه برخه اوغوټ اکثریت لبنانیان دی .»**
**هغه څلورسناریو چې مخکی مو وویل د(٢٠٠٩ م کال څخه بیا تر ٢٠٢٥ )میلادی کال پوری دهندی څیرونکـواونـورودباوروړخـیرونکواوشینوونکوله خـواچې دپوره سولی،امنیت او سراسری جګړوترمنځ په نظرکی نیول سوی دی چې کوم ډول عوامل په دی سناریو کې مهم رول لري په دی دول سره سي څرګنده کوي :**
*** لمړی عامل : په سیمه کښې دامریکا دنفوذ میزان.**
*** دوهم عامل : دتیلو اوانرژیو دمیزان ارزښت په سیمی ،اوپه انرژی لرونکوزریمواو سرچینوکښې .**

# *دغه څلورسناریوپه لاندی ډول دي :*

## لمړی سناریو :

* په سیمه کښې دبدګمانی پراختیا چې لمړنی رول امریکا په سیمه کښې لوبه وی اوترسره کوي اوپرتیلواوانرژیتکوسرچینوباندی په تیکه کولوسره دحیاتی سرچینی ترسرلیک لاندی چې په راتلوونکې کې دغه ډیر داړتیا وړ ماده رالږیږی .
* نړیوال ټولنه ، داسرائیل هیواد ودی ته وداره کوي ترڅود دووفلسطینی اواسرائیلی ګاونډیو هیوادونووجوړیدلو، ورامنځته کیدلواو ومنلو ته ځان چمتوکړی اوعربی هیوادونه هم مجبوره کوی ترڅودیوه اسرائیلی دولت په شتوالی باندی هرومرواقرار وکړی .
*همدارنګه دقدس سرلیک هم نامعلومه دی .

*هغه ټاکل سوی مبلغ پیسی (ډالر) دکډوالواوبی ځای سویو فلسطینیانوته دبیرته راتګ حق په توګه وخپل فلسطینی ټاټوبی اومځکوته هم مشخص سوی ندی اونامعلومه دي .
*په سیمه کښې تل پاته اوربند موجود نه دی هرګړي رامنځته سوی اوربند ترپښولاندی کیږی .
*دایران هیوادد اټومی اوهستوی ځواک خاوندسوي دی .
* عربی هیوادونه تردا اوسه پوری یودبل سره اختلافونه لري .
* همدارنګه دسوری هیواد دایران دهیوادسره هم تړونه دی اوپراخه اړیکی ورسره لري .
* په لبنان اوعراق کې ډېر پراخ مذهبی اختلافونه موجودی دي .
* القاعده په اردون اولبنان کې ډېری ستونزی یې رامنځته کړی دي اوحماس نور نو کمزوره سوي دی اوپه سمیه کښې نه دسولی اونه دجګړی وضعیت اوحالت واکمن دی .

## دوهمه سناریو :

* په ټولوځایونوکښې شخړی او آخ اوډب رامنځته سویدی اومخ پرډېریدو دي .
* امریکا لاتر اوسه پوری دنړی لمړی واکمن هیواد دی اوتیل لاتراوسه هم دانرژی اصلی سرچینه ده .
* فلسطینی ډلي دهر ډول دیوی منځلاری دحل لار په وړاندی مخالفت کوي ځکه چې هروخت دوي دناکامی اوماتي سره مخامخ سوی دی .
* دحماس ،فتح اودالقاعدی غورځنګونه کمزوره سویدي .
* دایران هیواد دیوی بلی نوي ډلی**څخه ملاتړ کوی .**
*** داسرائیل دولت دښارګوټوپه جوړه ولوسره ادامه ورکوي اودسویلی افریقا داپارتاید په شان یونظام یې جوړکړی اورامنځته کړی دی .**
*** دسیمی نظامی بودجه او پانګه دښېړسلنی (ښپږفیصده ٪۶) څخه و(٪۱۵) وپنځلس فیصدوته ملی ګټوته زیاتوالی رامنځته کوی .**
*** دایران اواسرائیلوترمنځ په اټومی اوهستوي جګړه کې شا اوخوا پنځوس میلیونه خلک وژل کیږی .**
*** اسرائیل په لبنان کې دفلسطینی ډلواودفلسطین په خاورکې دفلسطینیانوسره په افراطی ډول سره شخړی اوکړنی ترسره کوي .**
*** دمصر،اردون ،عراق اودلبنان دهیوادونو سیاسی اودل اوجوړښت بدلون یې موندلی اوبدلون مومی .**

## دریمه سناریو :

*** دسیمی دټولوسیاسی معادلاتوبدلون .**
*** داقتصادی کړکیچ له کبله دامریکا نفوذ به په سیمه کښې راټیټ سوی اولاهم راټیټیږی اودروسیی هیواد دنړی لمړی واک به وګرځي .**
*** دوه اسرائیلی اوفلسطینی هیوادونه دروسیی په ملاتړباندی ،یو یهودی اسرائیلی هیواداوبل عربی فلسطینی هیواد به جوړیږی اورامنځته کیږی چې هر دواړه به په هغه کې برابراویوشان ته حقونه ولري .**
*** دعراق ،لبنان اودسوری هیوادونه به په خپل کورنی خپل منځی ګډوډیواوشخړوکې به سره اخته وي .**

## څلرمه سناریو :

*** دیوی ښی لیدنی سناریوچې نړی څوقطبی دی .**
* امریکا دروسیی ،چین، اروپا، جاپان، ایران، هند، ترکیی، سویلی افریقا اود برازیل په نړیوال رول باندی **به اقرار وکړي .**

*** دانساني ټولني دانرژيودسرچينوپه اړه ،دهغوانرژيوڅخه لکه دلمر دانرژۍ ،دبادونواو موجونودانرژيوڅخه په ښکلی ډول سره به ګټه واخستل سي .**
*** واسرائيليانو اوفلسطينيانوته به د(۱۹۶۷) ميلادی کال دپلواوسرحداتوپربنسټ دوه هيوادونه جوړيږی اورامنځته کيږی ،او دعربانواواسرائيليانوترمنځ اقتصادی مرسته ولوړی کچی ته رسيږی .**
*** ايران اوسعودی عربستان دمذهبی کړکيچونودتيته ولو،رالږولواودمخ نيوی په سبب دسيمی په هيوادونوکښي يودبل سره ګډی اويوشانته شوراګانی جوړه وي اورامنځته کوي . /**
اخيځليک : دقطره نيوز څخه